**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# د خلافت مدافع او د امريکايي استعمار پر وړاندې د مقاومت سمبول، نويد بټ د تېرو اتو کلونو راهيسې په پټو زندانونو کې ساتل کېږي

د مې پر ۱۱ مه د حزب التحرير-ولايه پاکستان د رسمي وياند نويد بټ له تښتولو او په پټو اېجنسيو کې په غير قانوني ډول د بندي کولو څخه اته کاله پوره شول. دا په داسې حال کې ده چې د باجوه-عمران رژيم هندي پيلوټ ابهي نندان چې پر پاکستان باندې يې د بريد لپاره د کنټرول له کرښې سرغړونه کړې وه، د يوې ورځې په موده کې خوشې کړ. دوی د هندي ترهګر جاسوس کلبهوشن جادوا او د هغه د ښځې سره د ليدلو لپاره ځانګړي ډيپلوماتيک انتظامات هم ترسره کړل، خو د نويد بټ کورنۍ يې له هر ډول خبرو اترو څخه محرومه کړې ده. الله سبحانه وتعالى فرمايلي دي:

**﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾**

**ژباړه:** *محمد صلی عليه وسلم د الله سبحانه وتعالی پيغمبر دی او کوم کسان چې له هغه سره ملګري دي، هغوی پر کافرانو سخت او په خپلو منځونو کې خواږه دي.*

*[فتح:۲۹]*

دغه امريکايي اجنټان خپلې معاملې څه ډول ترسره کوي! دوی د کافرو دښمنانو سره زړه سوانده او امتياز ورکوونکي دي، په داسې حال کې چې د مسلمانانو سره بيا د سوک،

ټوپک او بمونو پر ژبه خبرې کړي. ایا دوی د رسول الله صلی علیه وسلم دغه حدیث نه دی اورېدلی چې فرمایي:

**(إِنَّ اللَّهَ قَالَ مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ)**

**ژباړه:** *الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي، چې زه د هغه چا پر وړاندې جګړه اعلانوم څوک چې زما د ولي (دوست) سره دښمني کړي. (بخاري)*

۵۵ کلن نوید بټ څلور اولادونه لري، دی د امت له وفادارو او مخلصو بچیانو څخه دی. یو داسې پیاوړی مبدأیي سیاستوال دی چې کولی شي د خلافت له تأسیس وروسته په اسانۍ سره پر هر پوست باندې دنده ترسره کړي. دی له اصلي کشمیري کورنۍ څخه دی چې په اسلام اباد کې اوسېږي. ده د لاهور په مشهور پوهنتون کې د انجنیرۍ او ټکنالوژۍ په برخه کې زده کړې پیل کړې، له هغه وروسته د خپلې وړتیا پر مټ د امریکا د اېلینوېز پوهنتون ته د نورو زده کړو پر موخه ولېږل شو او له هغه ځایه یې د فراغت سند ترلاسه کړ. هغه په امریکا کې د خصوصي سکتور سره دنده پیل کړه او وروسته یې پرېکړه وکړه چې پاکستان ته لاړ شي او په اسلامي خاوره کې د خلافت د بیا تأسیس پر موخه د نړیوالې مبارزې برخه وګرځي. ده د هر ډول اسانتیاوو څخه ډک ژوند د اجیرو واکمنانو د قهر او غضب په بدل کې پرېښود. په نه ستړې کېدونکي ډول یې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د اجیرو واکمنانو خیانت خلکو ته په ډاګه کړ. ده د خپلې مبارزې په موده کې د سلګونه مطبوعاتي اعلامیو پر لیکلو، لسګونو کالمونو پر لیکلو، مطبوعاتي کنفرانسونو، سمینارونو او د زرګونه نفوذ لرونکو خلکو سره د خبرو اترو او ویناګانو له لارې امریکا ته د شته واکمنانو غلامي څرګنده کړه. ده په ټول پاکستان کې د خلافت د بیا تأسیس پر مکلفیت او د هغه د جوړښت پر جزیاتو باندې د خلکو د خبرولو لپاره سفرونه وکړل. ده د

خپلې سیاسي او فکري مبارزې په ترڅ کې مکرر نیول او بندي کول وزغمل او د مقاومت او شجاعت یو نمونه شو.

د ۲۰۱۸ م کال په فبروري کې د ورکو شوو خلکو د کمیسیون مشر قاضي جاوید اقبال د نوید بټ په اړه یو فرمان صادر کړ. دغه فرمان د پټو اجنسیو لخوا د نوید بټ نیول او بندي کول تائیدول. نوید بټ په داسې حال کې وتښتول شو چې هغه د حزب التحریر هغه کمپاین پر لاره اچولی و چې د واکمنانو د سختې محاسبې غوښتنه یې کوله. دغه کمپاین د حکومت له خوا د امریکایي جاسوس او قاتل ریمونډ ډیوس د خوشې کولو او په ایبټ اباد کې د امریکا د برید په مخنیوي کې د حکومت د پاتې راتلو پر ضد په لاره اچول شوی و، ترڅو د بصیرت خاوندانو ته د دوی غلامي په ډاګه کړي. هو! همدا یې وخت دی چې واکمنان له خپلو جرمونو څخه د نوید بټ پر عاجل پرېښودلو سره توبه وکړي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ﴾**

**ژباړه:** *چا چې پر مؤمنو نارینه او ښځو باندې تېری وکړ او بیا یې توبه ونه ایستله، هرومرو د هغوی لپاره د دوزخ عذاب دی او د هغوی لپاره د سوځېدلو سزا ده. [بروج:۱۰]*

واقعیت دا دی، چې د باجوه-عمران رژیم ته دا واضح ده چې د دوی د بې رحمه ظلمونو سره سره حزب التحریر نه خپله مبارزه بنده کړې او نه یې سسته کړې ده، بلکې برعکس د حزب التحریر اغېز پر مسلمانانو او پر ځانګړي ډول پر وسله والو ځواکونو ډېر شوی دی. هو! په حقیقت کې هغه خلک چې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول الله

صلی علیه وسلم په لاره کې ستونزې ګالي د مسلمانانو د رهبرۍ مستحق دي. د رمضان په دغه مبارکه میاشت کې موږ د الله سبحانه وتعالی دربار ته لاسونه لپه کوو چې د یوسف علیه وسلام په څېر نوید بټ ته هم د ظالمانو له تیارو خونو او ځنځیرونو څخه نجات ورکړي او د الله سبحانه وتعالی د احکامو پر پلي کېدلو سره یې عزتمندکړي. له شک پرته چې دا ورځ به د ظالمانو لپاره ډېره سخته وي په داسې حال کې چې په اخرت کې د دوی لپاره تیار شوی عذاب تر دې ډېر سخت او خورا درده وونکی دی.

## حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر:

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د رمضان ۱۰مه**

**۲۰۲۰ م کال، د مې ۳ مه**

**د صدور شمېره: ۵۷/۱۴۴۱**

.